# حفیظ الله امین



حفیظ الله امین

حفیظ الله امین د ۱۹۲۹ م کال د اګست پر لومړۍ نېټه د پغمان ولسوالۍ د قاضي خېلو په کلي کې نړۍ ته سترګې خلاصې کړې دي. وروسته تر دې چې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي د ریاضي او فزیک په څانګه کې یې تحصیل وکړ په یوه لېسه کې یې د ښوونکي په توګه په کار پیل وکړ. په ۱۹۵۷ م کال کې یې د امریکې متحده ایالاتو ته د لوړو زده کړو د پاره سفر وکړ. د تحصیل تر سر ته رسولو وروسته د کابل د ښوونکو د روزلو په موسسه (دارالمعلمین) کې د ښوونکي په توګه په کار بوخت سو. په ۱۹۶۲ م کال کې یې یو ځل بیا د لوړو زده کړو د پاره امریکا ته سفر و کړ. دا ځلې د دې پر ځای چې زده کړې وکړي په سیاست لګیا سو.

کله چې هیواد ته را ستون سو، د خلق د دیموکراتیک ګوند غړی سو. نوموړی د نور محمد ترکي تر مړیني وروسته د افغانستان د دریم اولسمشر (جمهور ریس) او د خلق د دیموکراتیک ګوند مشر سو.



بیرغ یې دا ډول وو.

داسې ویل کیږي چې د ترکي د قدرت ته رسېدو په لومړي وخت کې د حفیظ الله امین او ببرک کارمل تر منځ مخالفت پیدا سو. هغه دا چې کارمل او یو شمېر نورو حفیظ الله امین د امریکا پلوی او د (CIA) د جاسوس په نامه باله. خو د حفیظ الله امین د حکومت په ۱۰۴ ورځنۍ موده کې پرته د یوه ناکامه پوځي بغاوت څخه بل کوم داسې سر غړونه او د ده په وړاندې ولاړېدنه نه ده تر سترګو سوې.

د ۱۹۷۹م کال د ډیسمبر پر ۲۷ نېټه حفیظ الله امین د شوروي پوځونو لخوا ووژل سو او پر ځای یې ببرک کارمل د افغانستان د اولسمشر په توګه پر چوکۍ کېښناوه. د

امین تر مړیني وروسته بیا خلق او پرچم دواړه د خلق د دیموکراتیک ګوند په نامه و بلل سوه. دا ځکه چي د پرچم د ګوند غړي ډېر کم وه.